مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۱۲/۰۵

# غزل

يو پر تا مين يم له هر يار سره مي نه لګي
تا ته چي درځمه له اغيار سره مي نه لګي
ستا د حسن خيال پر انارګل باندي مين کړمه
ته چي را سره يې له انار سره مي نه لګي
ته به مي شړې خو له ازل سره به څه کوو؟
پل مي دي پيدا کی له رويبار سره مي نه لګي
زه دي لکه سيوری درسره يمه پل نه لرم
ته مي آئينه يې له غبار سره مي نه لګي
زه مي خپل نصيب له سور او تال سره زدوولی يم
شرنګ د خپل رباب يم له هر تار سره مي نه لګي
زه يې پروانه غوندي پانوس ته پيدا کړی يم
چا ويل؟ چي سوځم له انګار سره مي نه لګي
تا د هوش په کور کي بې له غمه څه ليدلي دي
پريږده چي نشه يم له خمار سره مي نه لګي
ماته جهاني د ګل پر پانو کيسي مه ليکه
زېړی د خزان يم له بهار سره مي نه لګي

د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پنځه ويشتمه ويرجينيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ